ورځپانه
هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
سه شنبه د محرم الحرام ۱۲ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۱۷ مه ۱٤٠٤ ل کال، د جولای ۸ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۸۵ یمه، پرله پسې ګڼه ۷۴۸مه، اتمه دوره

اسلامي امارت هرات کې د کډوالو لپاره مهم او وړیا خدمات وړاندې کوي

اسلامي امارت له ایران څخه په جبري ډول د اېستل شویو کډوالـو د ملاتړ لپاره اسلام کلا سرحـد کې مهـم او وړیا خدمـات وړانـدې کـوي. د هـرات سـیمه ییز مسـئولین وایـي: دغو خدماتـو کې هر کډوال تـه ۲زره نغدي افغانۍ ورکـول، د خوراکـي توکـو وېش، د سیمکارتونو وېش، له سرحده تر اړونـد ولایته وړیا ټرانسـپورټ، وړیـا روغتیایي خدمـات، د ځمکـې وېش او بېوزلو او مسـتحقو کورنیو ته د کورونو جوړول شـامل دي. د دوی په خبره، اسلامي امارت د یادو خدماتـو وړاندې کول خپله ملي او انسـاني دنده بولي او د کډوالو وضعیت د لا ښـه والي لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکـړي. د یادونې وړ ده، چې تېـرو دوو اوونیو کې له ایرانه د کډوالو د جبري اېسـتلو لړۍ پیل شـوې، د اسـلامي امارت مسـئولین هڅه کوي، چې دغه پروسـه هم له پاکستان څخه د کډوالو اېستلو لړۍ په څېر په بریالیتوب سره مدیریت کړي.

له بهره راستنېدونکو صنعتکارانو ته اسانتیاوې برابرېږي

په داسې حال کې چې له ایران او پاکستان څخه د افغان کډوالو د اېستلو لړۍ دوام لري؛ یوه برخه یې هغه صنعتکاران او پانګوال دي چې په دغــو هېوادونو کې یې پانګونــه کړې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت وایي، چې د ((د راســتنېدونکو سوداګرو او صنعتکارانو د تنظیم او دوی ته د اسانتیاوو برابرولو)) په نامه کمېټه، چې د ۱۴۰۲ کال د قوس په میاشــت کې جوړه شوې، تر اوســه یــې د ۲۴ صنعتکارانو د راســتنېدو تأیید کړی او اوس مهـال هم د صنعـت کارانو او پانګوالو د اسنادو تأییدي روانه ده. دغه کســان ډېر لــه ایران او پاکســتان څخه افغانســتان ته راســتانه شــوي دي. وزارت زیاتوي، چــې راســتنېدونکو صنعتکارانو په بېلابېلو تولیدي سکتورونو کې خپلې پانګونې پیــل کــړې دي. د صنعــت او ســوداګرۍ وزارت ویانــد، اخنــدزاده عبدالسـلام جــواد وایي: ((وزارت د راستنېدونکو پانګوالو لپاره، یوه نمره چې کور پکې جوړ کړي، د هغې ځمکې توزیــع چــې کارخونــه پکې جوړه کړي ... ۳مخ

۳مخ

د کورنیو چارو وزارت پرېکړه؛
ټول نظامي مسئولین او منسوبین د دندې پر مهال د یونیفورم پر اغوستلو مکلف دي

د افغانســتان اســلامي امــارت د کورنیــو چــارو وزارت د مشرتابه په غونــډه کــې د دغــه وزارت د منســوبینو له لوري د منظور شوي یونیفورم پر کاروني ټینګار شــوی دی. د یــاد وزارت ویانــد مفتي عبدالمتیــن قانــع پــر خپلــه اکس پاڼــه لیکلي:«له هغــه ځایه چې، د کورنیو چارو وزارت اساسي دنده، د امنیت ټینګښــت، د قانون تطبیق او له جرمونو سره مبارزه ده، نو په دې اســاس د کورنیو چارو وزارت د مشرتابه جلســې د فیصلــې او د کورنیو چارو د وزیــر خلیفــه سراج الدین حقــاني د منظورۍ پر اســاس ټول نظامي مسئولین او منســوبین مکلف دي، چــې د دنــدې د اجراء پــر مهــال د عالیقدر امیرالمؤمنیــن حفظه الله له لوري له منظور شــوي یونیفورم څخه ګټه واخلي.»
نومــوړي زیاته کړې، چې دا کار به د پولیســو په پېژندګلوۍ کې د ولس لپاره اســانتیاوې را منځ ته کړي.

یوه چینایي شرکت په افغانستان کې پراخې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې



د چیــن د یوه خصــوصي شرکت درېوو استازو وینکتون، یازونګ او رین ســن لیــن د بلــخ له والي حاجي محمدیوسف وفا سره لیدنه کړې. په دې لیدنه کې د یاد شرکت اســتازو په بلخ او یو شمېر نورو ولایتونــو کې د کرنــې، صنعت، کانونو، ســړک جوړولو او رېل پټلۍ برخــو کې پراخې پانګونې ته چمتووالی ښودلی. دغه‌راز په یاده پانګونه کې د بلخ په حیرتان کې د یــوه صنعتي پارک جوړول او د دې ولایت د سرې او برښــنا فابریکــې بیارغونه، د بدخشــان ولایت واخان او چیــن ترمنځ د ګډ سرحدي بــازار او له کندهار څخه تر هرات پورې د رېل پټلۍ پروژې شــاملې دي. همدارنګه یاد شرکت د دره‌صوف د ســکرو معیاري استخراج ... ۳مخ

متحدو عربي اماراتو په افغانستان کې ۱۰ روغتیایي مرکزونه جوړ کړي

متحدو عربي اماراتو په افغانســتان کې د مور او ماشــوم د روغتیا لپاره ۱۰ پرمختلــلي روغتیایــي مرکزونه جوړ او ګټې اخیســتنې ته سپارلي دي. دا مرکزونه پــه ننګرهار، بلخ، هرات، غزني، پکتیکا، پکتیا، کندهار او هلمند ولایتونــو کې د روغتیایي اړتیاوو د پوره کولو لپاره جوړ شوي دي. روغتیایــي مســئولین وایي: دا مرکزونــه به د نوزېږدو ماشــومانو د مړینــې د کمولــو او د هغــوی د روغتیایي ســتونزو د مخنیوي لپاره، امیــدوارو میندو او ماشــومانو ته د درملنــې او واکســین کولو خدمات وړاندې کړي.

د کرنې وزارت او خصوصي شرکت ترمنځ د اصلاح شویو کرنیزو تخمونو د تولید هوکړه

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کرنیزو اصلاح‌شــویو تخمونــو د نویــو ډولونــو د معــرفي کولــو پــه موخــه لــه یــوه خصــوصي شرکــت سره د همکارۍ هوکړه‌لیک لاسلیک کــړی. د کرنــې، اوبولګولو او مالــدارۍ وزارت وایــي، چې د یاد هوکړه‌لیک په مراســمو کې د دې وزارت د کرنې او مالدارۍ مرســتیال مولــوي صدراعظــم عثــماني، د مــالي او اداري چارو مرســتیال ملا اغاجــان «حاجي سالم»، د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مدیره پلاوي مرســتیال محمــد یونس مهمنــد، د امارتي شرکتونو، ښــاري اوبو رســولو او فاضلابــو اجرائیــوي رئیس مولوي غلام‌الرحمان کظیم او د کرنــې وزارت د کرنیزو څېړنو انستیټوټ رئیس مولوي نصرالله طلحــه شــتون درلــود. مولوي صدراعظــم عثــماني ویــلي:«د باکیفیته اصلاح‌شــویو تخمونو تولید د بزګرانو ... ۳مخ

د کتاب ارزونې کمېسیون غونډه وکړه

د اطلاعاتــو او فرهنــګ وزارت د خپرونــو چارو د معین ښــاغلي مهاجر فراهــي په مشرۍ د کتاب ارزونې کمېسیون نوبتي غونډه د کمېســیون د نورو غړو په شتون کې جوړه شوه.
د غونډې په پیل کې د کمېســیون د تېرې غونډې راپور وړاندې شو او د کمېسیون لاســته راوړنې او فعالیتونه وارزول شول. په غونډه کې د بېلابېلو کتابونو په اړه لازمې پرېکړې وشــوې او هغه کتابونه چې له اسلامي او افغاني ارزښتونو سر سم لیکل شوي وو ... ۳مخ

پنجشېر کې ۳۰ کیلومتره سړک رغول کېږي

د پنجشــېر د ټولګټو چارو ریاست مســئولین وایي چې د دغه ولایت د ۳۰ کیلو متره عمومي لارې د بیارغولو چارې پیل شــوې دي.د یاد ولایت د ټولګټو چارو رئیــس مولوي محمد فهیم موحد باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه ۳۰ کیلومتره ســړک له شتل ولسوالۍ څخه تر مرکز بازارک پــورې د دغه ولایــت د والي حافظ محمد آغــا حکیم په مــالي ملاتړ په اساسي ډول بیارغول کېږي.د نوموړي په وینا، د دغه سړک په جوړېدو سره به د یادې ولســوالۍ د اوســېدونکو د تــګ را تګ ډېرې ســتونزې حل شي. ورتــه مهــال د یادې ولســوالۍ اوسېدونکي بیا وایي چې د دغه سړک پــه جوړېدو سره به یې د تګ راتګ په برخه کې شته ســتونزې حل او د ورته نورو پروژو د پلي کېدو غوښتنه یې کړې ده.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت:
هڅه کوو یو شمېر هېوادونو ته کاریګر په قانوني توګه واستوو

د کار او ټولنیزو چــارو وزارت له لوري کابــل کې له نشــه یي توکو څخــه د رغېدلیو لپــاره د حرفې او فــن زده کړې پنځمه او د پراختیایي پروژو لومړۍ دوره پرانیستل شوه. دغه وزارت ویلي، چې په یاده دوره کې به ۸۰۰ له نشه یي توکو رغېدلیو کســانو ته د فن او حرفې په برخه کې د زده کړو زمینې برابرې شي. یاد وزارت زیاته کړې ... ۳مخ

سروی مشاهداتی و امکان سنجی اعمار بند گلبهار بالای دریای پنجشیر انجام شد

محترم داکتر فاروق اعظم، مشاور ارشـد مقام وزارت و محترم داکتر محمـد عابـد انـورزی، مشـاور بخش انرژی مقـام وزارت همراه بـا تیم تخنیکـی ریاسـت آب و انرژی کاپیسـا جهت انجام سروی مشـاهداتی و امکان سنجی اعمار بنـد گلبهار بالای دریای پنجشـیر به این ولایت ســفر نمودند.
مســئولین متذکــره اعـمار ایــن بند را یــک منبـع بزرگ انرژی برای کشــور خواندند و افزودند کــه بــا اعــمار آن مشکلات کم‌آبی در ولایت‌های کاپیسا، پــروان و کابــل تا حــدودی حل خواهد شد.
همچنان، مســئولین مذکور اعمار یــک بنــد را بــالای دریای شــتل مفیــد ارزیابی نموده که با اعمار آن مشکلات کم‌آبی در ولایت پروان حل خواهد شد.

پروان کې یو استنادي دېوال جوړېږي

کابل، د چنــګاښ ۱۶مه، باختر: د پروان د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي چې د دغه ولایت په ســالنګ ولسوالۍ کې د څه بانــدې ۲ میلیونو افغانیو په لګښــت د یوه اســتنادي دېوال د جوړولو چارې پیل شــوې دي. د یاد ولایت د کلیــو د بیارغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي مسئول محمد صبور رؤیت باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي ... ۳مخ

له پاکستان او ایران څخه د ۳۶۴۹ افغان کډوالو کورنیو راستنېدنه

د کډوالو ســتونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون پرون له پاکستان او ایران څخه هېــواد ته د ۳۶۴۹ راســتنېدونکو افغــان کورنیو د راتګ خــبر ورکــړی دی. د یاد کمېســیون دارالانشــاء د یــوې خبرپاڼــې په خپرولــو سره ویلي چــې د چنګاښ ۱۵ مــه نېټه د تورخم له لارې ۴۶ کورنۍ، چې د غرو شــمېر یــې ۲۲۷ تنه وو، خپلو ولایتونو ته انتقال شوي او ۱۵۲۰۰۰ افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده. د سرچینې د مالوماتو له مخې؛ په تورخم کې له ۸۷ کورنیو سره ۶۱۰۰۰۰ افغانــۍ مرســته هم شــوې ده. د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون په خبرپاڼه کې راغلي ... ۳مخ

اقتصادي اړیکې د رسمیت پر بنسټ پراخېږي!

په نړیوالو اړیکو کې داسې شېبې شته، چې د یو هېواد لپاره نه یوازې سیاسي مانا لري، بلکې د اوږدمهالي اقتصادي بدلون بنسټ هم جوړوي. د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه، یوه همداسې تاریخي شېبه ده، چې د افغانستان د سیاسي ثبات، اقتصادي ودې او نړیوال حیثیت لپاره روښانه سباوون کېدای شي. دا پرېکړه د هغو کلونو ستونزمنو حالاتو ته یو پرېکنده او مثبت ځواب دی. روسیه، چې د سیمې او نړۍ له مهمو قدرتونو څخه ده، د افغانستان له اوسني نظام سره د رسمي اړیکو اعلان یې نه یوازې یو سیاسي ابتکار دی، بلکې دا یو ستر اقتصادي فرصت هم دی. دغه اقدام ښیي چې د نړۍ مهم لوبغاړي د تعامل له لارې د ستونزو د حل غوښتونکي دي، نه د انزوا او بندیزونو له لارې. له همدې امله، د افغانستان خصوصي سکتور، پانګوال او اقتصادي شنونکي د روسیې دا ګام د یو نوي اقتصادي باب د پیل په توګه ارزوي. د روسیې د ستراتېژیک اقدام په لړ کې، د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه یو مثبت پیغام لري؛ دا پیغام د دې نښه ده، چې د سیمې ځواکمن هېوادونه د افغانستان د نوي نظام د واقعیت منلو ته چمتو شوي. دا پرېکړه کولای شي چې د نورو هېوادونو لپاره هم یوه بېلګه شي او نړیوالو ته دا وښیي، چې له افغانستان سره تعامل نه یوازې ممکن دی، بلکې ګټور هم دی. د افغانستان خصوصي سکتور، د روسیې دغه ګام د اقتصادي ودې لپاره یو تاریخي چانس بولي . که څه هم دا مهال د افغانستان او روسیې ترمنځ کلنۍ سوداګري نږدې ۳۰۰ میلیونه افغانۍ ده، خو د مسکو له پرېکړې وروسته تمه ده چې دا ارقام چټک بدلون ومومي. د روسیې په څېر له یو قدرتمند هېواد سره رسمي اړیکې دا زمینه برابروي، چې په انرژۍ، انجنیري، ټرانسپورټ، کرنه، کان‌کیندنه او نورو برخو کې سترې پانګونې راجلب شي. د اقتصادي چارو شنونکي پر دې ټینګار کوي، چې د سیاسي مشروعیت او اقتصادي همکاریو ترمنځ مستقیم تړاو شته، د منابعو د پراخ وېش له امله، هېڅ هېواد نشي کولای یوازې پر خپل ځان تکیه وکړي؛ نو ځکه، متقابل تعامل او همکاري د اړتیا وړ ده. که څه هم د لوېدیځو هېوادونو سیاسي دریځونه لا هم یو ډول احتیاط ښیي، خو د روسیې دا اقدام هغوی ته یو واضح پیغام لېږي، چې د افغانستان اسلامي امارت سره تعامل نه یوازې ممکن دی، بلکې د متقابل احترام پر بنسټ مثبتې او پیاوړې پایلې لري. شنونکي وایي: که د روسیې دا ابتکار نورو هېوادونو ته الهام ورکوونکی دی، دا به افغانستان ته د سیاسي مشروعیت، اقتصادي ودې او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي دروازې پرانیزي. باور دادی، چې د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه، نه یوازې یو سیاسي بری دی، بلکې دا د اقتصادي تحول یو قوي بنسټ هم ګڼل کېږي. دا اقدام به له شک پرته، د پانګونې، صادراتو، کارموندنې، زېربنایي پروژو او نړیوالو همکاریو په برخه کې د پام وړ بدلونونه راولي. که دا لړۍ دوام وکړي او نور هېوادونه هم له مسکو څخه الهام واخلي، افغانستان به وکولای شي چې خپلې اقتصادي پیاوړتیاوې فعالې کړي او د یو پر ځان متکي او پر ځان بسیا هېواد په توګه به نړیوالو ته ځان وروپېژني. له همدې امله د روسیې پرېکړه یوازې یو رسمي اعلان نه دی؛ بلکې دا د افغانستان لپاره د اقتصادي ودې او نړیوال تعامل یوه بله دروازه ده، چې باید د تدبیر او ژمنتیا له لارې پرانیستل شي او ترې اغېزمنه استفاده وشي.

سیاسي‌شنونکي:

د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه یوازې سیاسي پرېکړه نه، بلکې د سیمې د توازن د بیا جوړولو یو تاریخي فرصت دی

د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته د نږدې څلورو کلونو په پوره کېدلو سره د هېڅ هېواد له لوري د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت ونه پېژندل شو، حتا اسلامي هېوادونو هم په دې برخه کې غوږونه کاڼه کړل؛ خو دا چاره د خپل وخت د ابر قدرت هېواد روسیې له لوري څو ورځې وړاندې د رسمي اعلان په لړ کې عملي شوه، د افغانستان د اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو اعلان یې وکړ او د یو ښه ملګري هېواد په څېر یې د افغانستان اقتصادي ملګرتیا ته اوږه ورکړه او په دې کار سره روسیه لومړنی هېواد شو چې اسلامي امارت یې په رسمیت وپېژانده او د هېوادوالو، سیاسي شنونکو او اقتصادي کارپوهانو د هر کلي سبب وګرځېده.

د پنجشنبه په ورځ په کابل کې د روسیې د سیاسي استازولۍ استازي ډیمتري ژیرنوف له روسي رسنۍ سره په خبرو کې وویل چې د یاد هېواد د ولسمشر او د بهرنیو چارو د وزیر په همکارۍ یې د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو اعلان وکړ او دا پرېکړه یې له افغانستان سره د هر اړخیز شراکت او خلکو سره یې د دوستانه اړیکو ښکارندویي کوي. په ورته مهال سیاسي شنونکی ډاکتر زلمی افغانیار پوپل وایي: د روسیې له خوا د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه؛ نړیوال مشروعیت ته د لارې خلاصول دي. د افغانستان اسلامي امارت لا هم له روسیې پرته د نړیوالو له لوري په رسمیت نه دی پېژندل شوی؛ خو د روسیې وروستي دریځونه دا امکان پیاوړی کوي چې



دا وضعیت بدلون ومومي. دا چې روسیه د نړیوال سیاست یو مهم لوبغاړی او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دایمي غړی هېواد دی، نو د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنې سره به له شک پرته د افغانستان لپاره د نړیوال مشروعیت د لاسته راوړنې لاره هواره کړي.

د نوموړي په وینا: دغه ډول یو اقدام به د سیمې او اسلامي نړۍ، په ځانګړې ډول چین، ایران او ترکیې ته هم سیاسي جرئت ورکړي تر څو له افغانستان سره رسمي تعامل ته داخل شي. د ډېرو هېوادونو دریځونه تر ډېره د سترو قدرتونو پر کړنو ولاړ دي او د روسیې نوښت به یو ډول «سیاسي مشرتوب» وښیي چې نور هم وهڅوي.

همداراز د روسیې له خوا له نورو وړاندې دا ګام اخیستل، د مسکو د سیمې په سیاست کې د ابتکار او مخکښ رول ښکارندویي کوي، دغه کار کولی شي چې د روسیې سیمه ییز نفوذ نورهم پیاوړی کړي او له افغانستان سره د اقتصادي، امنیتي او ستراتېژیکو همکاریو دروازې پرانیزي.

د نوموړي په وینا: د روسیې له خوا د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه یوازې یوه سیاسي پرېکړه نه ده، بلکې د سیمې د توازن د بیا جوړونې یو تاریخي فرصت ګڼل کېږي. دا ګام به هم افغانستان له انزوا راوباسي او هم به روسیې ته یو نوې ستراتېژیک موقعیت ورکړي.

دې سره هممهاله د چین حکومت د روسیې له لوري د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې هرکلی کړی او ویلي یې دي چې بیجېنګ د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د تعامل د پراخېدو ملاتړ کوي. د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاندې، ماو نینګ، ویلي: چین په دې باور دی چې افغانستان باید له نړیوالې ټولنې جلا پاتې نه شي. چین له افغانستان سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې هېڅکله نه دي پرې کړې او تل یې د متقابل درناوي پر بنسټ دوام ورکړی دی.

همدارنګه بل سیاسي شنونکی سیدعبادالله صادق وایي: روسیې له ناټو سره په جګړه کې له بوختیا سره سره بیا هم په قوي دریځ د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنې سره سیاسي اقدام وکړ او نړیوالو ته یې سیاسي او نظامي قدرت وښوده. نو نړیوال دې هم له روسیې زده کړې او په رسمیت پېژندلو سره دې افغانستان له نړیوالې ټولنه سره یو ځای شي.

دې سره جوخت په قطر کې د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي استازولۍ استازي محمد سهیل شاهین ویلي دي چې له روسیې وروسته به په تعقیب سره د نړۍ نور هېوادونه هم د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژني او راتلونکو اوونیو کې به د ښو خبرو شاهدان واوسو.

د اقتصادي چارو کارپوه محمد طاووس فرزاد وایي: له نړیوالو سره هره دروازه چې په رسمي ډول پرانیستل کېږي، زموږ هېواد ته په سیاسي، اقتصادي او بېلا بېلو برخو کې ګټې لري، د اسلامي امارت په بیا واکمنۍ سره په هېواد کې پراختیایي اقتصادي پروژې ودرېدې او د بیا پر مخ بیولو لپاره یې ستونزه د اسلامي امارت رسمیت پېژندل یادوي، نو که همداسې د رسمیت پېژندنې لړۍ وغځېږي، نو پراختیایي پروژې به بیا پیل شي او په مخ کې به یې شته خنډونه لرې شي.

د نوموړي په خبره: دغه ډول اقدامات کولای شي چې د مرستو د پیل په برخه کې پرمختګ راولي او د پانګونې په برخه کې به زمینه برابره شي. نو په اقتصادي لحاظ په کار ده چې له روسیې سره د لویو تړونونو لاسلیک وشي، د سوداګرۍ په برخه کې به خنډونه لرې شي او دواړه هېوادونه به سوداګریزې راکړې ورکړې له ځنډ پرته تر سره کړي.

زیارمل هوتک

پاسخی به گزارشگری که بی‌طرف نیست

رحمت الله فیضان

ریچارد بنت، گزارشگر ویژه حقوق بشر سازمان ملل متحد برای افغانستان، در واکنش به، به‌رسمیت شناختن امارت اسلامی افغانستان از سوی فدراسیون روسیه، اظهار داشته است که حکومت افغانستان نباید بدون بهبود تأیید شده و پایدار در عرصه حقوق بشر، عادی‌سازی شود. وی با ابراز نگرانی و ناامیدی از تصمیم اخیر روسیه گفته است که این اقدام می‌تواند «سابقه‌ای خطرناک» ایجاد کند و به رژیم‌هایی که در افغانستان و فراتر از آن، حقوق بشر را بدون پاسخ گویی نقض می کنند، جرئت و جسارت بیشتری ببخشد.

در خصوص این اظهارات اقای بنت چند نکته قابل ذکر است:

نخست اینکه تمام کسانی که افغانستان را به مرز نابودی کشاندند و دستان‌شان تا آرنج به خون ملت ما آغشته است— چه آنانی که با نام‌های «خلق و پرچم» شناخته می‌شوند، چه تحت عنوان «تکنوکرات»، «دموکرات» و یا بنام «مجاهدین »—امروز همگی مورد حمایت و پشتیبانی مستقیم یا غیرمستقیم آقای بنت قرار دارند. این حمایت‌ها جایگاه بی‌طرفانه او را از اساس زیر سؤال می‌برد. اولاً، ریچارد بنت بار دیگر نشان داد که به‌جای ایفای یک نقش حرفه‌ای و بی‌طرفانه، عملاً به سخنگوی گروه‌های سیاسی فراری و مخالفان مغرض امارت اسلامی تبدیل شده است. وی نه تنها واقعیت‌های عینی و تحولات مثبت افغانستان را نادیده می گیرد، بلکه با رویکرد یک‌جانبه، در صدد زیر سؤال بردن مشروعیت نظام مستقر برآمده از اراده ملت است.

ثانیاً، امارت اسلامی افغانستان با تأمین امنیت سراسری، مبارزه با فساد، رعایت کرامت انسانی و ایجاد محیط سالم و با ثبات برای زندگی، دستاوردهایی را به‌ثبت رسانده که طی بیست سال حضور نظامیان خارجی در کشور بی‌سابقه بوده است. به جای نادیده گرفتن این تحولات، نهادهای بین‌المللی باید آن را مورد تشویق و حمایت قرار دهند. ثالثاً، تصمیم فدراسیون روسیه برای به‌رسمیت‌شناختن امارت اسلامی، یک تصمیم مستقل، واقع‌بینانه و مطابق با منافع ملی و منطقه‌ای است. این اقدام در جهت ثبات منطقه، مبارزه با تبهکاران و گسترش روابط اقتصادی و دیپلوماتیک صورت گرفته است، نه برای تأیید دیدگاه‌های یک‌سویه و سیاسی آقای بنت. رابعاً، ما به این باوریم که مسئله حقوق بشر نباید به ابزاری برای اعمال فشار سیاسی علیه نظام‌های مستقل تبدیل شود. برخوردهای دوگانه در موضوع حقوق بشر، اعتبار این مفهوم جهانی را زیر سؤال برده است. متأسفانه گزارش‌های آقای بنت بیشتر بازتاب‌دهنده دیدگاه رسانه‌های مغرض و نهادهای استخباراتی است تا واقعیت‌های میدانی افغانستان.

امارت اسلامی افغانستان از تمام کشورها و نهادهای بین‌المللی انتظار دارد که با درک واقعیت‌های نوین و شرایط جاری افغانستان، رویکرد عادلانه، سازنده و به‌دور از سیاست‌زدگی در پیش گیرند.

د رسمیت پېژندنې هنګامه او داخلي مخالفتونه!

خالق یار احمدزی

له څه کم څلورو کلونو وروسته، بالاخره د سیمې او نړۍ سیاسي او استخباراتي چینلونو درک کړه، چې افغانستان نور له هغې زاویې وتلی، چې دوی په کې خپلې تمریناتي لوبې ترسره او دلته د خپلو زر خرېدو ایجنټانو پر مټ خپلې اوږدمهالې او لنډ مهالې ګټې خوندي وساتي.

ګاونډیانو د مهاجرینو له اخراجولو نیولې بیا تر مخامخ تبلیغاتي او فزیکي تهاجماتو پورې پرله پسې تکراري هڅې وکړې او لنډه دا چې هېڅ کوم لوري تر خپلې وسې مزاحمتونه دریغ نه کړل. خو اسلامي امارت له ټولو سره د متوازن او بې پرې سیاست داعیه مخته وړله او ټولو ته یې پر همدغه مسیر د مخته تګ وړاندیز کاوه.

روسیې که څه هم په ۹۰ یمو کلونو کې د افغانستان جغرافیه تنور کړه، خو اوسنی مثبت اقدام یې هم د دوی او هم د افغانستان په ګټه دی.دغه هېواد که څه هم په سیاست کې څو ځله ناکامه ازموینه ورکړې او د خپلو ګټو تر حصوله یې یاري مخته وړې، نو له دغه ګام سره یې هم باید ځیرک تعامل وشي او د سیاست د تعریف له مخې، چې د ملي ګټو په رڼا کې دوست او دښمن ټاکل کېږي، د همدې اصل له مخې ورسره تګ پکار دی. داخلي ستونزې: دلته موږ د داسې تربرونو په منځ کې پراته یو، چې اول مو خپله داړي، که یې زور راباندې ونه رسېد، د بل کلي لېوانو ته د متاع قلیل په بدل کې زموږ د داړلو لپاره لاره ورکوي! روسیې چې کوم ګام واخیست، لرې نه ده چې ژر به یې نور همسایه او یو شمیر عربي او آن ځینې اروپایي هېوادونه هم په نوبت سره لاره تعقیب کړي، خو موږ هم باید پر سیاسي مسیرونو د تګ لپاره څو ارزوونکي غلبیلونه ولرو، چې وینا او عمل مو د خپلواک اسلامي نظام د داعیې مطابق شمېرلې وي.

موږ د فکري مخالف کړسنده خندا د ایران او اسرائیلو په شخړه کې ولیده؛ په داسې حال کې چې یاد هېواد د جمهوریت پسوند له نوم سره ... ۳مخ

برگزاری مراسم عزاداری عاشورا در امنیت کامل

در مراسمی که به مناسبت دهم محرم و عاشورای حسینی در غرب کابل برگزار شده بود، مقامات امارت اسلامی اشتراک و سخنرانی کردند.

شیخ مدارعلی کریمی بامیانی معین شهری وزارت شهرسازی و مسکن که در این برنامه سخن می گفت، بیان کرد:« تجلیل از عاشورای حسینی صرف مراسم مذهبی نیست؛ بلکه امام حسین(رض) متعلق به تمام امت اسلامیست و هر دو مذهب حنفی و جعفری با حسین که نواده پیامبراسلام(ص)است وجه مشترک داشته، به همین دلیل است که سالهای متمادی میشود، پیروان هردو مذهب در کنارهم برادرانه زندگی کرده اند.»

وی در ادامه سخنانش افزود:« تجلیل و عزاداری از عاشورای حسینی یعنی یاری کردن از امام حسین(رض) بوده و یاری کردن حسین یعنی یاری کردن با دین مقدس اسلام است.»

شیخ کریمی علاوه کرد که اگر امام حسین(رض) به یزید تسلیم می شد، این حادثه بزرگ خلق نمی شد و مردم اکثراً از دین اسلام منحرف می شدند.

وی تاکید کرد که امام حسین(رض) در مقابل هرگونه کجروی ها و ظلم جامعه آن روز صدایش را بلندکرد و ایستاد، حتی تا به قیمت جان خود و یاران و اسارت اهل و عیالش بخاطر اینکه مردم جهان تا قیامت نه ظلم کنند و نه تحت هیچ ظلم وستمی به زندگی ذلت باری ادامه دهند بلکه آزاده و سربلند زندگی کنند.

همچنین شیخ محمد آصف مصباح رئیس مساجد و حسینیه‌های وزارت حج و اوقاف کشور گفت که اگر حرف و پیام نیک خویش را برای مردم برسانیم بهترین فرصت همین مراسم عزاداری روزهای عاشورا است. وی افزود که امسال مراسم تجلیل از عزاداری عاشورای حسینی خوشبختاته در بیش از ده هزار مسجد و حسینیه در سراسر کشور به بهترین شکل بدون کدام محدودیت موفقانه برگزار شد. وی تاکید کرد که باید در این روزهای بزرگ از وحدت و از ظرفیت های خویش سخن گفته و به فکر اصلاحات جامعه خویش باشیم و خصوصاً برای مردم همیشه ابلاغ شود تا از مصارف گزاف مجلس فاتحه گیری، عروسی و سایر مراسم کمرشکن جداً جلوگیری گردد؛ زیرا یکی از اهداف قیام و پیام امام حسین(رض) امر به معروف و نهی از منکر در جامعه است و هچنان زنان باید با پوشش(حجاب)زینب پسند در جامعه ظاهرشده و مسئولیت بزرگ شان را در جامعه اداء نمایند. وی خاطر نشان ساخت که ما باید عاشورا را محور وحدت ساخته و متحد باشیم و اگر مسلمانان باهم متحد باشند، هیچ ظلمی از هیچ شخصی و کشوری را متحمل نمی شوند و اتفاقاتی چون در کشور فلسطین که اسرئیل ظالم حمله کرده و هر روز صدها تن فلسطيني کشته و زخمی می‌شود شکل نمی گرفت. همچنان اسدالله سعادتی یکی از چهره های تاثیر گذار و سخنران این مراسم چنین بیان کرد: در باره سالروز عاشورای حسینی از سالهای متمادی تا اکنون کتاب ها واشعار زیادی نوشته شده و همه میدانند که قیام امام حسین(رض)بزرگ است؛ ولی متاسفانه درک ما از این قیام دشوار و کم است؛ پس باید مطابق شرایط روز سخن گفت؛ تا ازاهداف قیام و ایستادگی امام حسین(رض) که ارزش های اخلاقی و دینی برای همه مردم جهان دارد یادآوری نماییم. وی در ادامه

سخنانش گفت که امام حسین(رض) در برابر آزمون بزرگ الهی و تاریخی قرارداشت و می دانست که در این آزمون الهی و تاریخی گرفتن جان خود و یاران و اسارت اهل و عیالش حتمي است، ولی امام حسین(رض) شجاعانه و با افتخار در این آزمون الهی و تاریخی شرکت کرد و در نتیجه موفق و کامیاب شد.

او افزود که نتیجه برگزاری چنین مراسم بزرگ عزاداری این است تا ما پیام آن را برای دیگران برسانیم؛ اول باید تصویر اخلاقی از خود برای جهانیان بروز بدهیم تا آنها نیزجذب این چنین اخلاق مداری شوند. دوم اینکه جامعه شیعه و سنی را باهم متحد بسازیم و تصمیم بگیریم از حق و حقوق مسلمین دفاع کرده متحد باشیم.

محمدرفیع تیموری

افغان اعلانات

اطلاعیه مفقودی

یـک طغرا مهر وکالت دفاع شماره ۲۸۸۶ مورخ ۱۳۹۴/۳/۲۶ مربـوط محترم محمد سـلیم عزیزی فرزند عزیز الله که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۲۲۰۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم ظاهر محمدی فرزند عبدالعزیز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم وحید الله رحمانی فرزند جنت گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حضرت عمر شـینواری فرزند بالیزی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم میلاد فرزند حمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم ژیلا فرزند حمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم سلما فرزند حمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم سینا فرزند حمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم لعل محمد فرزند بلال مفقـود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رحمت الله حیـدری فرزند سـیف الدیـن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم سید حامد موسـوی فرزند سید احمد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم حفیظ الله ترکمن فرزند عبدالجلیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم عظیم گل اتمانزی فرزنـد سرتور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۴

اطلاعیه مفقودی

یـک جلـد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم نصیـر احمـد خیرمحمدی فرزند دوسـت محمـد مفقود گردیده از اعتبار سـاقط می باشد.۳۳۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم حفیظ الله حکیمی فرزند احمد گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۳۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد زادین کرزی فرزند ینگی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد عثـمان کـرزی فرزنـد زرین شـاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میراجان احمدزی فرزند محمـد عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم رحیم کریمی فرزند محمد امین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد رضا شـیخ زاده فرزند قربان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۰۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امید الله عزیزی فرزند محمد یاسـین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۰۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم عادل خان خاموش فرزند امیرزاده مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم ملیحه روفی فرزند غلام حیـدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم صفت الله سـتاکزی فرزند شیر باز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مسعود فرزند جلیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۴۷

موضوع : د داوطلبۍ لپاره د بلنې اعلان

منـندوی به مو یو، لاندې متن د خپلې ډېرې خپرېدونکې ورځپاڼې څخه خپور کړئ.
د ټولګټـو وزارت پـه شرایطـو برابر ټولو دواطلبانـو ته بلنـه ورکوي چـې د { پروژه اعـمار و احداث کمپلکـس مکمل ترازوی در سـاحه دروازه بسـت ولایت هلمند} کې شرکت وکړي او د يادې پروژې د شرطنامې، بل احجام او تخنیکي اسـنادو سـافټ د دې وزارت د تـدارکات ریاسـت د ودانیـزو او مشـورتي خدمتونو آمریت څخ ه ترلاسه او خپل آفرونـه د شرطنامي، تدارکات قانون او کړنلارې د مندرجو شرایطو مطابق په ټرلې او بند ډول د خپرېدو له نېټې څخه تر {۱۰:۰۰} مخکې له غرمـې (ظهـر) ۱٤۰٤/۰٤/۲۵ د ټولګټېو وزارت د تدارکات ریاسـت ته چې د سرشـمېرنې ملي اداري ترخنګ، د پخوانی داخلـي وزارت سرک، ملالۍ واټ کې واقع دی، وړانـدې کړي، د یادونې وړ ده، انټرنیټي او ناوخته رسېدونکي آفرونه د منلو وړ ندي.
د آفـر تضمیـن د بانـک ګرنټۍ پـه ډول (۱۹۰،۰۰۰) افغانـی دی او د آفرپرانیسـتې غونډه پـه ۱٤۰٤/۰٤/۲۵ نېټه پـه {۱۰:۰۰} بجې مخکې تر غرمې د دې وزارت د تعمیر، دریم منزل، د غونډو په تالار کې دایرېږي.

اطلاعیه کندز

ریاسـت امر بالمعروف و نهی عن المنکر و سـمع شـکایات ولایت کندز در نظر دارد که هشـت قلم روغنیات تیل پطرول، دیزل و میلایـل و فلتر باب روغنیات سـال مالی ۱۴۰۴ مورد نیاز عراده جات خویش را طور داوطلبی قانون تدارکاتی قرار داد نماید.
ریاسـت ذکر شـده از تمام داوطلبان واجد شرایـط دعوت مـی نمایـد تا در پروسـه داوطلبی تهیـه ۸ قلم روغنیـات مورد نیاز این اداره اشتراک نموده مبلغ (۱۰۰۰) افغانی پول غیر قابل بازگشت اسناد داوطلبی که به زبان دری میباشد و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط ار بدسـت آورده آفرهای خویش را مطابـق شرطنامه منـدرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی سـاعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز شـنبه تاریخ ۲۸/سرطان ۱۴۰۴ به ریاسـت امر بالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت کندز تضمین سری دوره ناحیه پنجم ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفـر بصورت بانکی و یـا پول نقد اخذ میگـردد و جلسـه آفرگشـایی بروز یک شـنبه تاریخ ۲۹/سرطان/۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در ریاست امربالمعروف و نهی عن المنکر و سـمع شـکایات تدویر میگردد.۱۵۹۸

اعلان داوطلبی

موضـوع: اعلان پـروژه ریجنـت، مواد لابراتـواری و مواد مصرفـی طبی ضرورت شـفاخانه های تدریسی ریاست پوهنتون علـوم طبی کابل» ابوعلی ابن سـینا» بابت سال مالی ۱٤۰٤.
ریاسـت پوهنتون علوم طبی کابل»ابوعلی ابن سـینا»از تمام داوطلبـان واجد شرایط دعـوت مینمایـد تـا در پروسـه داوطلبی بـاز؛ پروژه ریجنـت، مـواد لابراتواری و مواد مصرفی طبی ضرورت شـفاخانه های تدریسی ریاست پوهنتون علوم طبی کابل» ابوعلی ابن سـینا» بابت سـال مالی ۱٤۰٤، اشـتراک نموده و نقل شرطنامه را از تاریخ نشر اعلان الـی ۲۱ روز تقویمی از آمریت تـدارکات؛ ریاسـت پوهنتون علـوم طبی کابل» ابوعلی ابن سـینا»در اوقات رسـمی بدست آورند. شرطنامه متذکره را مطالعه و آفرخویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبـق قانون و طرزالعمـل تدارکات طور سربسـته ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیریش نمی باشد.
تضمین آفربه صورت تضمین بانکی بوده و جلسه آفرگشـایی به روزتعین شده مندرج شرطنامه سـاعت ۱۰:۰۰ قبـل از ظهر، در شـعبه معاونیت مالی و اداری این ریاسـت برگزار میگردد.۱۹۳

اطلاعیه لیلام

آمریت محاسـبه اجناس اداره عالی سـتره محکمه ۱.۱.۱ بتعـداد ۲۴ عراده موتر داغمه مختلف النـوع خویـش را بتاریخ ۴/۲۹/۱۴۰۴ روز یکشـنبه سـاعت ۹ بجه قبل از ظهـر در تعمیر ریاسـت تعلیـمات قضایی (فابریکه سـابق جنگلک) کابـل به لیلام میگذارد.
شرکت هـا، افراد و اشـخاصیکه خواهش خریـداری آنرا داشـته باشـند بتاریخ فوق الذکـر در محل لیلام مراجعـه نموده ومبلغ ۲۷۵۴۰۰ افغانی پـول تضمین و کاپی تذکره خویشرا یکروز قبـل از داوطلبی به معتمد نقدی ستره محکمه بسپارند۱۷۳

تهیه و تدارک فرنیچرباب مورد نیاز ریاست ها و بخش های اداره ملی احصائیه و معلومات بابت سال مالی ۱٤۰٤

شماره داوطلبی:
NSIA/1404/NCB/G.1825
اداره ملـی احصائیـه و معلومـات از تمام داوطلبان واجد شرایـط دعوت می نماید تا در پروسـه داوطلـبی بازداخـلی پروژه تهیه و تدارک فرنیچرباب مورد نیاز ریاست ها و بخش های اداره ملی احصائیه و معلومات بابت سـال مالی ۱٤۰٤ اشتراک نموده و شـرطنامه آنرا به شکل سافت و بطور رایـگان از آمریت تدارکات اطاق نمـبر A-٤۱ منـزل اول اداره ملـی احصائیه و معلومـات واقـع ناحیـه هفتـم، سرک چهلستون، نزدیک باغ بابر کابل و همچنان از سـایت ریاسـت تدارکات ملی بدسـت آورده و آفـرهای خویش را مـطابق به شرایط مندرج شـرطنامه و طبق قانون و طرزالعـمل تدارکات طـوری سربسته، از تاریـخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر روز سـه شـنبه مؤرخ ۰۷ اسد ۱٤۰٤ به ریاسـت تدارکات این اداره ارایه نمایند، آفرهای ناوقت رسـیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.
تضمین آفر به شکل تضمین بانکی به ارزش مجموعی مبلغ ٥٤،٥٨٨ پنجاه و چهار هزار و پنجصد و هشـتاد و هشت افغانی بوده و جلسه آفرگشـایی آن به ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر روز سـه شـنبه مؤرخ ۰۷ اسد ۱٤۰٤ در منزل سـوم اطـاق کنفرانس های اداره ملـی احصائیـه و معلومـات تدویر میگردد.

اعلان دعوت به داوطلبی

موضـوع : پروژه تهیه و تـدارک (۸۰)قلم قرطاسـیه باب غیرمطبـوع مورد ضرورت شعبات مرکز وزارت تحصیلات عالی بابت سال مالی ۱٤۰٤
شماره دعوت به داوطلبی:
MOHE/1404/NCB/G-055
وزارت تحصیـلات عالی از تمـام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسـه داوطلبـی پـروژه تهیه و تـدارک (۸۰)قلم قرطاسـیه باب غیرمطبـوع مورد ضرورت شعبات مرکز وزارت تحصیلات عالی بابت سال مالی ۱٤۰٤اشـتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات، وزارت تحصیـلات عالـی بدسـت آورده، آفرهـای خویش را مطابـق شرایط مندرج شرطنامه و طبـق طرزالعمل تدارکات طور سربسـته از تاریخ نشر اعلان الی سـاعت {۱۰:۰۰} قبل از ظهر روز {چهارشنبه} تاریخ {۱٤۰٤/۰٥/۰۸} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالـی واقع کارتـه چهار ناحیه سـوم کابل افغانسـتان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسـیده و انترنیتـی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به شـکل بانـک گرنتی: مبلغ (۲,٥۰,۰۰۰) افغانی
جلسه آفر گشـایی به روز{چهارشنبه}تاریخ {۱٤۰٤/۰٥/۰۸}سـاعت{۱۰:۰۰ قبل ازظهر} در{صالـون آفرگشـایی ریاسـت تدارکات وزارت تحصیـلات عالی واقع کارته چهار، ناحیه سوم،کابل افغانستان}تدویر می گردد.
شـماره تمـاس:۰۲۰۲٥۱٤۱۸۲ - آدرس الکترونیکـی: gmail.com@taherahsas۲۹
۲۰۳-

د رسمیت پېژندنې هنګامه ...

ترلـې او تر ډېره یې وګړي فردي آزادۍ هم لري، خو بیا یې هم تبنـتېدلو د یوه سوچه لیـبرال نظام د قـوام او قیام لپاره د اوسـنې رژیم د نسکورولو او د اسرائیلو د بریا لپاره په کومه کچه لاسونه وپړکول... .
هـو! زموږ مخالفینو هم پـوره دري کاله نه کومه کوڅه پرېښـوده او نه کـوم ګودر، په هـر ځای کې یې د بهرنیانو ملاتړ پسـې کچکـول وګرځاوه، خو پخوانیـو بادارانو یې نور د قلنګ لـه ورکړې ځکه نټه وکړه چې تېر شـل کلن فرصت کې یې د هېواد او ارزښـتونو د لیلام برخه کې له تنخوا زیاته وفـاداري ثابتـه کړې وه او همـدې کار بې حیثیته کړي هم وو .
دوی کـه څه هـم د داخـلي نا امنـۍ او د ارزښـتونو د پلور لپاره له خپله وسـه پورته خواري وکړه، خو داچې پردیو ګټو ته ژمن وګړي هېڅ لوري ته باوري یاران نه وي، نو د بریا تر پولو رسیدنه هم ورته داسې بربښې لکه آسمان ته د شیاطینو ختل؛ چې له رسېدو سره سم د شهاب ثاقب ښکار کېږي.
افغان نمـا بریخو، چې څه باندې ۴لسـیزې لـه مـوږ سره وېنګولـه، لامل یـې د پولې پټې شراکت نـه ؤ، بلکـې د پردیو ګټو او ارزښتونو خوندیتوب ته نګه ژمنتیا وه، چې تر پایه یـې د حصول لپاره دلۍ دلۍ ککړۍ له لاسه ورکړې.
اوس چې یې د هوسـونو اشباع ختمه شوې، نو خـود بـه د هېواد د ثبـات لپـاره د یوه مسـئولیت پذیر او مرکزي نظـام پر احیاء کېدو اوښکې تویوي ، ګرده نړۍ به هم ورته جاهله ښکاري چې دوی یې شاته پرېښودل او د دوی فکري مخالفینو ته یې د رسـمیت پېژندنې شین څراغ ورکړ.
ګاونډیو او نړۍ درک کړې چې افغانسـتان یـې د تجارت، اقتصادي ګټـو او ټرانزیټ لپاره مهمه لاره ده او افغانسـتان کې د هرې سـکروټې تازه کېدل، د ټولې سیمې په زیان دي، نـو اړ دي چې د لارې پـه اوږدو کې د ټامیانو چغ و پغ ته له پام کولو پرته، د ۱.۱.۱ سره د سیال په توګه تعامل ته را وړاندې شي؛ له دې پرته بله لاره نه لري.
د افغانسـتان د اسـلامي امارت په رسـمیت پېژندل، یوازې د حاکم نظام په ګټه نه، بلکې د افغانسـتان د ټولې جغرافیې د اوسېدونکو او... لپاره په ګټه دي.

له بهره راستنېدونکو ...

د یـوه موټر ګمرکي معافیت، د ماشـینونو ګمرکي معافیت، پنځه کلن د مالیې معافیت او نورې ډېرې اسـانتیاوې په پـام کې نیول شـوې چې څو راسـتانه شـوي پانګوال و هڅـول شي.)) په همدې حـال کې د کابل د صنعتکارانـو ټولنـه او د اقتصادي چارو یو شمېر شنونکي باور لري، چې که د اسلامي امارت له خوا د صنعتکارانو او راستنېدونکو پانګوالو هڅونه زیاته شي؛ نو ښـایي په بهر کې د افغان صنعتکارانو راتګ ګړندی شي.
د کابل د صنعتکارانو ټولنې مشر، عبدالجبار صافي وایي: ((خصوصي سکتور هم د دوی ملاتړ ته چمتو دی او حکومت هم باید دوی ته د کاز زمینه برابره کړي، ترڅو دغه خلک اړ نه شي چې بېرته لـه هېواده و وځي.))له بهره د افغان پانګوالو او صنعتکارانو راتګ نه یـوازې دا چې د هېواد پـه اقتصادي وده کې رغنـده رول لري؛ بلکې په هېواد کې به ورسره کاري فرصتونه هم زیات شي.

د کرنې وزارت او خصوصي ...

اقتصـاد تـه وده ورکـوي، د ناروغیو کچه راکمـوي او د حاصلاتـو د زیاتـوالي لامل ګرځي. موږ د کورنیو پانګوالو ملاتړ ته ژمن یو او باید په ګـډه کار وکړو ترڅو د اقلیم د بدلون او نبـاتي ناروغیو پر وړاندې مقابله وکړو.))د مالي او اداري چارو مرسـتیال ملا اغاجـان «حاجي سـالم» ویلي:«معیاري او علمي څېړنـې د کرنې د پرمختګ بنسـټ دی. د لوړکیفیتـه تخمونو تولید د حاصلاتو د زیاتـوالي او د خلکـو د ژوند د ښـه والي لامل ګرځي. د شـته امنیت او مناسب کاري چاپېریال په شرایطو کې، موږ د ټولو افغان شرکتونو ملاتړ کوو.» دغه‌راز د سوداګرۍ خونې مرستیال او د کرنې وزارت د څېړنیزو بنسټونو استازو هم د اصلاح‌شویو تخمونو د تولیـد او د کـورنې ظرفیـت د لوړولو پر اهمیـت خبرې وکـړې، ترڅو لـه نړیوالو بازارونو سره سیالي ممکنه شي.

یوه چینایي شرکت په ...

د نفتـو تولیـد، د جبل‌السراج د سـمنټو فابریکې ماشـیني همـکارۍ او په کندهار کې د اوښـانو لوی فارم او د شېدو فابریکې جوړولو برخه کې هـم پانګونې ته لېوالتیا ښـودلې. ورته مهال د بلخ والي د یاد شرکت د پلانونو هرکلی کـړی او ټینګار یې کړی، چې یادې طرحې باید ژر تر ژره عملي شي.

هڅه کوو یو شمېر ...

هڅه کـوي یو شـمېر هېوادونو تـه ماهر کارېګر په قانوني توګه واستوي. همدارنګه له نشو رغېدلې کسان د کار او ټولنیزو چارو وزارت له لوري د یاد پروګرام هرکلی کوي او په شـته وخت کې یې ګټور بولي. د دغه وزارت د مسئولینو په خبره، له نشه‌یي توکو رغېدلو څه باندې شپږ زرو کسانو ته د فن او حرفو په برخو کې زده‌کړې ورکړ شوې دي.

د کتاب ارزونې کمېسیون ...

د چاپ اجازه یې ترلاسه کړه.
د غونـډې پـه پـای کې هغه شـمېر کتابونه چې کمېسیون ته د ارزونې په موخه رالېږل شوي وو، د ارزونې لپاره د کمېسیون غړو ته وسپارل شـول، تر څو راتلونکې غونډې ته یې راپور وړاندې کړي.

له پاکستان او ایران ...

چې د چنګاښ میاشتې په ۱۵مه نېټه له ایران څخه د نیمروز ولایت د ورېښـمو له لارې ۱۳۳٤ کورنـۍ، چې د غړو شـمېر یې ٦ زره ۹٥۷ تنه وو، هېواد ته راسـتنې او ثبت شوې دي او هلتـه له ۱٦۰۷ کورنیو سره ۱۳ میلیون ۷٦۰ زره افغانۍ مرسـته هم شوې ده.له دغې لارې څخه ۱۹٦۳ مسـافر هم خپل هېواد ته راستانه شوي دي.
په خبرپاڼه کـې راغلي، چې پـه یـاده نېټه د هرات ولایت د اسـلام کلا لـه لارې ۲۲٥۰ کورنۍ، چې د غړو شـمېر یـې ۱۰ زره ۳۳٥ تنه وو، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي او هلته لـه ۲۲٤٦ کورنیـو سره ۲۲ میلیونه ۹۱۸ زره افغانۍ مرسته شـوې ده.تېره ورځ همدارنګه د پکتیکا ولایت د انګور اډې له لارې هم یوه کورنۍ خپل هېواد ته راسـتنه شـوې او ۱۰زره افغانۍ مرسـته هم ورسره شـوې ده.د یادونې وړ ده، چې راستنو شویو کورنیـو ته د دغه کمېسـیون د اطلاعاتو او عامه پوهاوي هیئت له لوري د دوی د ثبت، لېږد، مالي مرسـتو، لنډ مهاله مېشـتېدنې او همدارنګه د هېواد، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښـووني او روزنې په اړه ګټور پوهاوی ورکړل شـوی دی او ټول ټال ورته ۱۳۸۲ سیمکارتونه هم وېشل شوي دي.

پروان کې یو استنادي ...

چې دغه کانال د سـالنګ ولسوالۍ په روی آب سـیمه کې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ د ۲ میلیونـو ۷٦۷ زره افغانیـو په لګښـت جوړېږي.د نوموړي په وینا، دغه دېوال ۷۲ متره اوږدوالی لري، چې په جوړېدو سره به یې ۱۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه د سېلابونو له خطر څخه وژغول شي او ورسره به د سیمې ۱۸٦ کسـانو ته د کار زمینـه هم برابره شي. ورته مهال د سیمې اوسېدونکي د یاد استنادي دېوال پـه جوړېدو خوښـي څرګندوي او وایي چې د دغه دېـوال په جوړېدو سره به کورونه د سـېلابونو له خطر څخه وژغول شي.

هر څوک چې پر موږ ...

د ده پـه خبره، اشـغالګر رژیم په اشـغالي سـیمو کې د یمـن د بریدونو مخـه نه شي نیولی. ده ټینګار کړی، تر هغې چې اشـغال نه وي درول شـوی، د غـزې په ملاتړ به یې د صهیونیسـتي رژیم پر ضـد بریدونه دوام وکړي.دا په داسـې حال کـې ده، چې یمن د غزې په ملاتړ پر اشـغالي سـیمو بریدونه زیات کـړي، چې اسرائیلو د دې بریدونو په غبرګون کې پرون دوشـنبه د یمن حدیده او نور بندرونه په نښه کړي.

د هېواد ٦۰ ښارګوټو کې ...

دغه وزارت ته سـپارلی دی .د دې نوملړونو پر بنسـټ، په اړوندو ولایتونو کې به هرې کورنـۍ ته یوه نمـره ځمکه ووېشـل شي.
هغه افغانان چې له ایرانه راسـتانه شوي، د سرپنـاه نشـتوالی د خپلو لویو سـتونزو په توګـه یادوي. ذکرالله چې له ایرانه ایسـتل شـوی وایي: ((کور نه‌لـرم، موږ په کورنۍ کې نهه تنه یو، بې سرپناه یو. ځمکه مې هم نشته. یوازینی کور مې یو زوړ کور دی چې باید ترمیم شي، خو نه پوهېږم دا کار څنګه وکړم.))یو بل ایسـتل شـوي هم وایي: ((دا کار سـم دی چې د کډوالو لپاره ښـارګوټي جوړ شي؛ هغو کسـانو ته چې د ژوند کولو ځای نه‌لري. ځینې داسـې دي چې ان د شپې ډوډۍ نه‌لري.))د اقتصادي چارو پوه، محمد نبـي وایي:«کډوال پـه ډېـره ظالمانه توګه ایستل کېږي او افغانستان ته راستنول کېږي. د دې وضعیت کنټرول، مدیریت او د هغوی ځای پر ځای کول لویه مسئله ده. حکومت بایـد د نړیوالـو ادارو او د کډوالو له ادارې سره په ګډه عمل وکړي، ترڅو د دې ستونزې لپاره حللارې پیدا کـړي. د دغه کار لپاره د لویې بودیجې اړتیا ده.)) وروسته له دې چې د ایران او پاکستان له خوا د کډوالو د اېستلو بهیر چټک شو، ایسـتل شویو افغانانو تل د خپلو سـتونزو، په ځانګړې توګه د روزګار او سرپناه په برخه کې، د پاملرنې غوښـتنه کړې ده.

د وسپنې پټلۍ له لارې ...

لوړېږي، په هماغې انـدازه کاري فرصتونه برابریـږي، ملي عواید زیاتیـږي او په ټوله کې اقتصادي ثبات، ترقي او ځان بسـیاینې تـه لاره هواریږي. د ټولګټـو وزارت هڅه کوي، ترڅو د لا زیاتو انتقالاتو لپاره مناسب شرایط برابر او سوداګرو ته اړین سهولتونه چمتو کړي.

د پوهنې وزیر ...

سپارښـتنه وکړه، څو د ارزونـو پر مهال د زده‌کوونکو وړتیا ته جـدي پاملرنه وکړي او هغوی په اسـلامي او ملي روحیه وروزي. مولوي حبیب‌الله اغـا زده‌کوونکي علم او پوهې ته وهڅول او ټینـګار یې وکړ، چې زده‌کوونکي باید درسـونه یوازې د ازموینې لپاره نه، بلکـې د خپلې علمي کچې لوړولو لپـاره ولـولي، تر څـو د هېـواد او ټولنې د روښانه راتلونکې لپاره د خدمت جوګه شي.

نورستان کې د نړدې ...

د یادې بولۍ لـه لارې به د دولت خزانې ته ۱۸٥ زره افغانۍ عواید جمع شي.
د یادونې وړ ده، چې لـه دې وړاندې هم په یاده ولسوالۍ کې د دېرش میلیونه افغانیو په ارزښت بولې ترسره شوې وه.

شپږیزه لوبلړې کې ...

شـنونکي بیا وایي چې دغې لوبلړې کې له پخـوا د پرمختګ زیات څرګونـه نه لیدل کېږي، خو د دغه لیګ کولو ته خوښ دي.
د افغانسـتان د کرکټ بورډ ویاند نسـیم سـادات ورځپاڼو ته ویلي: دغه لوبلړۍ چې د جولای په ۱۹ مـه کابل کې ترسره کېږي، څه تیاری ورته نیول شـوي او څه رواني دي: دغه لیګ ته امادګي روانه ده، میدان او ویشن‌ځایونه اماده شوي دي، اوس په نورو برخو کې چې د ټرانسپورټ او د پاتې کېدلو ځای ، لباسـونو او خومره سهولتونه چې د لوبغاړو لپاره وي، پر هغو کار روان دی.
ښاغلی سادات وایي چې د لوبلړۍ له پیلېدو یـوه اوونۍ وړاندې به تـول لوبغاړي کابل ته راځـي او تمرینات به پیلـوي. دی وایي چې زموږ زیاتره راتلونکـي نړیوالې لوبې په ګرمو موسـمونو کـې دي، نو ځکه دغه لوبلړۍ هم په ګرم موسـم کې ترسره کوو: هوا ډېره ګرمـه ده، خو زمـوږ راتلونکې نړیوالې سـیالۍ(اسـیا جام، پاکستان سره سـیالۍ...) په ګرمه هوا کـې دي.کرکټ بورډ زیاتوي چې هڅه کوي، تر څو نړیوال شـنونکي هم کابل ته راشي او دغه سـیالۍ له نږدې ووینې او تر نورو یې ورسـوي. د کرکټ یو تن شـنونکی نعمت الله سرحدي ورځپاڼو ته په لېږلي پیغام کې یادې سـیالۍ مثبتې ګڼلې، خو ویلي یې دي: که دا سـیالۍ د یـو لوبغالي پر ځـای په څـو لوبغالو او څـو ولایتونو کې وشي، ډېرې به ښـې شي. نومـوړی زیاتوي چې د لوبغـاړو اقتصادي برخې ته پاملرنه شـوې ده، چې دا یې ښـه برخـه ده او هیله لري، چـې کرکټ بورډ په راتلونکي کې دغـه برخه لا قوي کړي، تر څو ډېر افغانان سـپورټ ته تشویق شي.
تاج محمد بهار

بغلان کې سږ کال خټکي ...

ښـوزلې پراخه او د خلکو د پېر ځواک کم شوی دی.
د بغـلان د جرخشـک سـیمې د خټکیـو بزګـر وایـي چـې د خټکیو پـر کرکیلې یې ډېر لګښـت کړی؛ خـو اوس یې پوره کـولای ځکه نـه شي، چـې د دې ولایت خټکي یوازې په څو څنګلـورو ولایتونو کې پلورل کېـږي او نړیوالـو بازارونو ته ډېر نه رسـېږي. د بغلان بزګـران وایي: د معیاري سـرو خونو او نړیوالو بازارونو ته د محصولاتـو صادرولو لپاره د اسـانتیاوو او دغه راز، د کرنـې میکانیزه کولو لپاره د ملاتړ له نشتوالي شکایت کوي.
ورتـه مهـال د بغلان د کرنـې، مالدارۍ او اوبولګولـو ریاسـت د معلوماتـو برخې مسـئول ولي امرخېـل وایـي چـې د بازار موندنې پـه برخه کې د خټکیو او هندوانو لپاره کار شوی، بزګرو ته تخنیکي مشورې هم د کرنیـزو افتونو د مخنیـوي په موخه ورکـول شـوي او هڅې دادي چې سـړې خونې هم ورته جوړې شي.

نامتو امریکایي ورزشکار ...

لپاره له خدای (ج) څخه مننه کوم. اوس زه په خپل زړه کې داسې آرامي احساسوم چې ما مخکې هېڅکله نه وه تجربه کړې.)) د ده پرېکړه د مینه‌والو او ځینو مسلمانو لوبغاړو له خوا لـه مثبتو غبرګونونـو او د مبارکۍ پیغامونـو سره مخ شـوې ده. فرید کرلي په امریکا کې یو له خورا نامتو سـتورو څخه دی، چې په نړیوالو او د اولمپیک سیالیو کې یې برخه اخیستې ده. ده د ۱۰۰ او ٤۰۰ مترو په څېر سیالیو کې څو ځله اتلولۍ ګټلې دي او د متحدو ایالاتو د ملي منډه‌وهونکو یو له ویاړلو شخصیتونو څخه ګڼل کېږي.

کندهار کې د اوبو رسولو ...

د ٥۰ مـتره مکعبو په وړتیـا د پاکو اوبو د یوې ذخیـرې جـوړول، د ۲٤ زره مترو په اوږدوالي د پایپ غځول، د ۳۲ سولرې تختو او ٥۳٥ شیردانونو نښلول شامل دي.هېره دې نه وي چې د یادې شـبکې د تطبیق په بهیر کې به لسګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي او په بشپړېدو سره به یې ٥۳٥ کورنۍ د ښـاک اوبو ته لاسرسی پیدا کړي. باختر

Hewad Daily

دورځپانو رئیس : انجنیر عُزیر «بریالی»
موبایل : ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر : شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل افغانستان
دارېکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې ویب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۳۶۰۶۰۷۳-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹

سه شنبه د محرم الحرام ۱۲ مه ۱۴۴۷ق کال | د چنګاښ ۱۷ مه ۱۴۰۴ ل کال | د 2025م کال د جولای ۸مه

د چارو د لا ښه والي او د لګښتونو کمولو لپاره دې هلې ځلې وشي

د اسلامي امارت د ریاست الوزراء مقام د دفتر د لوی رئیس ډاکټر ملا عبدالواسع په مشرۍ د ۱۴۴۷ قمري کال لومړنۍ اداري غونډه پرون له غرمې مخکې په چهار چنار ماڼۍ کې وشوه.په دې غونډه کې د ریاست الوزراء د عالي مقام د دفتر د عمومي ریاست بېلابېلو رئیسانو ګډون درلود. ډاکټر ملا عبدالواسع دا ډول غونډې د چارو د لا ښه والي، همغږۍ، همکارۍ او ښه خدمت لپاره ګټورې بللې دي. نوموړي وویل: مسئولین دې شته نیمګړتیاوې او ستونزې په اساسي توګه حل، خپلمنځي همغږي او متقابل درناوی دې لا زیات او خپل مسئولیتونه دې په ښه توګه ترسره کړي. همدارنګه

د چارو د لا ښه والي او د لګښتونو د کمولي لپاره دې دوامدارې هلې ځلې وشي. وروسته مولوي صالح محمد مصلح د ودانیو د ساتنې او پالنې ریاست، مولوي محمد داود محمدي د تخنیک او ترانسپورټ ریاست، مولوي ګلزار احمد حقاني د تدارکاتو ریاست او مولوي عبدالخلیل روحاني د ریاست الوزراء اداري معاونیت اړوند موضوعات، اړتیاوې او غوښتنې مطرح کړې . همدارنګه له اجنډا سره سم د ازاد بحث په برخه کې د بېلابېلو ادارو استازو د اړوندو او مطرح شویو موضوعاتو په اړه خپل نظریات، وړاندیزونه او معلومات شریک کړي او غونډه د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.

د انصارالله د رسنیو اداري مرستیال:

هر څوک چې پر موږ او غزې بریدونه کوي د ارام خوب به ونه کړي

د یمن انصارالله د رسنیو مرکز مرستیال د یمن پر حدیده بندر چې پر موږ او غزې بریدونه کوي د ارام خوب به ونه کړي.

اسرائیلو وروستیو بریدونو ته په غبرګون کې ویلي: صهیونیستان باید پېنځایونو ته لاړ شي، څوک نوموړي ویلي: غزه یوازې نه ده او یمن به د بې عدالتۍ په خوب ویده نه شي ... ۳مخ

د هېواد ۶۰ ښارګوټو کې راستنېدونکو کډوالو ته ۹۴ زره جریبه ځمکې ځانګړې شوې

د کور او ښار جوړولو وزارت مسئولین وايي: هڅه کوي هغو کډوالو ته چې په جبري توګه هېواد ته راستنول کېږي، دایمي استوګنځایونه برابر کړي. د دغه وزارت ویاند، کمال افغان رسنیو ته ویلي، چې تر دې دمه په ۲۵ ولایتونو کې په شاوخوا ۶۰ ښارګوټو کې ټولټال ۹۴,۰۲۷ جریبه ځمکه د دغې موخې لپاره ځانګړې شوې ده.ښاغلي افغان زیاته کړه: ((زموږ ولایتي کمېټې لا هم فعالې دي، ترڅو هغو کډوالو ته چې په جبري توګه راستنول کېږي، ځمکې ور وپېژني او سروې یې کړي او یو منظم تفصیلي پلان جوړ کړي، چې وروسته به د نوملړ پراساس ځمکې ووېشل شي.)) د ښار جوړونې وزارت په خبره، د کډوالو عالي کمېسیون تر دې دمه د شاوخوا ۸۰ زره راستنو شویو کورنیو نوملړ ... ۳مخ

د وسپنې پټلۍ له لارې ۱۶۴ زره ۶۷۱ متریک ټنه انتقالات

د ټولګټو وزارت وايي: په تېرو دوو اوونیو کې د غبرګولي میاشتې له ۳۰مې څخه د چنګاښ تر ۱۲مې نېټې پورې د دې وزارت د وسپنې پټلۍ له لارې ۱۶۴ زره او ۶۷۱ متریک ټنه انتقالات شوي دي. یاد وزارت زیاته کړې، د حیرتان بندر له لارې ۱۲۱ زره ۶۵۵ ټنه، د اقینې بندر له لارې ۱۲ زره او ۷۶۴ ټنه، د تورغونډۍ بندر له لارې ۱۳۵ زره او ۱۲ ټنه او د خواف-هرات له لارې ۱۶ زره او ۷۴۰ ټنه، چې ټولټال ۱۶۴ زره او ۶۷۱ ټنه نفتي، غیر نفتي او نور مواد دي، هېواد ته وارد او صادر شوي دي.د دې وزارت د معلوماتو له مخې، د انتقالاتو له ډلې یوه برخه صادرات دي، چې په تېرو دوو اوونیو کې دوه زره او ۹۶۰ ټنه صادرات شوي، چې لویه برخه یې وچه مېوه او د انارو جوس دي. هر څومره چې د وسپنې پټلۍ له لارې د صادراتو او انتقالاتو کچه ... ۳مخ

نورستان کې د نږدې ۲ میلیونو افغانیو په ارزښت بېروج وپلورل شول

د نورستان د کانونو او پټرولیم ریاست مسئولینو په دغه ولایت کې یو ځل بیا د بولۍ له لارې د قیمتي ډبرو (بېروجو) د پلورل کېدو خبر ورکړی دی. د نورستان د کانونو او پټرولیم رئیس مولوي سید رحیم عمیر باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي چې د دغه ولایت د واما ولسوالۍ اړوند د کورد درې له کانونو څخه ترلاسه شوي ۲۰ کیلو ګرامه بېروج د ازادې بولۍ له لارې د یو میلیون ۸۵۱ زره افغانیو په ارزښت وپلورل شول. د نوموړي په وینا ... ۳مخ

خوست کې د ۲ کورنیو ترمنځ روغه وشوه

د خوست ولایت ځایي مسئولین وايي چې د دغه ولایت د موسی خېلو ولسوالۍ اړوند نرۍ میټې سیمه کې د دوو کورنیو ترمنځ ۸ کلنه دښمني د دیني عالمانو، قومي مشرانو او سیمه ییزو مسئولینو په هڅو پای ته ورسېده.

سرچینې باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې په دغې دښمنۍ کې دواړو لوریو ته ځاني او مالي زیانونه هم اوښتي وو، چې د دیني عالمانو، قومي مشرانو او سیمه ییزو مسئولینو په هڅو پای ته ورسېده.

د یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت له بیا واک ته رسېدو راهیسې په خوست کې د ولایتي اداري او قومي مشرانو په هڅو او منځګړیتوب شاوخوا ۱۳۰ خپلمنځي شخړې هوارې او حل شوې دي.

د پوهنې وزیر د حبیبیې لیسې د څلور نیم میاشتنیو ازموینو بهیر وکوت



د پوهنې وزیر مولوي حبیب‌الله اغا د کابل ښار د پوهنې ریاست د مسئولینو په ملتیا، د حبیبیې عالي لیسې له څلورنیم میاشتنیو ازموینو څخه لیدنه وکړه. نوموړی د اوومې تعلیمي حوزې له مسئولینو سره له ناستې وروسته، یادې لیسې ته لاړ او د ښوونځي د مسئولینو، ښوونکو او زده‌کوونکو لهخوا یې تود هرکلی وشو. د پوهنې وزیر د ازموینو بهیر له نږدې وځاره، د زده‌کوونکو پارچې یې وکتلې او له ښوونکو سره یې د ارزونې د څرنګوالي په اړه خبرې وکړې. نوموړي ښوونکو ته ... ۳مخ

نامتو امریکايي ورزشکار مسلمان شو

نامتو منډه‌وهونکی امریکايي لوبغاړی او نړیواله څېره «فرد کرلي»، د اسلام دین قبول کړی او ویلي یې دي، چې ده اوس خپل روحي امنیت ترلاسه کړ. ۳۰ کلن فرد کرلي امریکايي منډه‌وهونکی او په نړیواله کچه د مډالونو ګټونکی په دې وروستیو کې اعلان وکړ، چې د اسلام دین یې قبول کړی دی. ده په خپله رسمي انسټاګرام پاڼه کې یو پیغام خپور کړ چې هغه د متحدو عربي اماراتو په یوه جومات کې د شهادت کلمې په ویلو سره اسلام ومانه او په خپل ژوند کې یو نوی پړاو ته ننوت. کرلي په دې پیغام کې ویلي: ((زه د دې لوی نعمت ... ۳مخ

د عامې روغتیا وزارت د شفري نسخو د مخنیوي لپاره کمېټه جوړه کړې

د عامې روغتیا وزارت ویلي چې د ولس د غوښتنې او د سیستم رغونې په موخه یې هېواد کې د شفري نسخو د مخنیوي لپاره ځانګړې کمېټه جوړه کړې. د دغه وزارت ویاند شرافت زمان امرخېل پرون پر ایکسپانه لیکلي، چې دغه کمېټه به د شفري نسخو د مخنیوي پر څرنګوالي کار ترسره او نږدې وخت کې به یاده موضوع په جدي توګه تعقیب کړي، ترڅو مخنیوی یې وشي. دا داسې مهال دی چې له دې وړاندې د بېلابېلو ولایتونو یوشمېر اوسېدونکو شکایت کړی، چې د ډاکټرانو لهخوا ناروغانو ته د شفري نسخو لیکلو، ستونزې ورته پیدا کړې دي.د کابل اوسېدونکو ویلي: ځینې ډاکټران له یوشمېر درملتونونو سره په همغږۍ شفري نسخې لیکي چې له ځانګړو درملتونونو پرته یې څوک نشي لوستلی.

بغلان کې سږ کال خټکي او هندوانې ښه بازار لري



بغلان ولایت کې د خټکیو او هندوانو بزګران وايي چې سږکال په دغه ولایت کې د خټکیو او هندوانو بیې ښې دي، خو د سږو خونو له نشتون څخه شکایت لري.

د بغلان د کیله ګي سیمې د خټکیو بزګر حاجي الف خان باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې سږکال په دغه ولایت کې د خټکیو او هندوانو د بیو تر څنګ یې حاصلات هم ښه شوي، خو د سړو خونو نشتون ته اندېښمن دي او نه شي کولای چې خټکي او هندوانې نورو موسمونو ته وساتي.

د هندوانو بزګر احمدشاه وویل چې د بغلان کروندګر نړیوالو بازارونو ته د خپلو کرنیزو محصولاتو د لېږلو په برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کولو غوښتنه کوي او وايي چې د خټکیو په ګډون کرنیز محصولات یې په کور دننه چندان مارکېټ نه لري؛ څکه په وینا یې ... ۳مخ

کندهار کې د اوبو رسولو شبکه جوړېږي

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د کندهار په سپین بولدک ولسوالۍ کې د اوبو رسولو یوې سولرې شبکې د جوړولو چارو د پیل کېدو خبر ورکړی دی.یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په استولو سره لیکلي دي: «د کندهار ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د دغه ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ په معروفیانو کلي کې د ۱۱ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو رسولو د یوې شبکې د جوړولو چارې پیل شوې.» د سرچینې د معلوماتو له مخې؛ په یاده شبکه کې د دوو څاګانو کیندل ... ۳مخ

شپږیزه لوبلړۍ کې هر لوبغاړي ته د یوې لوبې ۳۵ زره معاش ورکول کېږي

پوره ۱۰ ورځې وروسته(د جولای په ۱۹) به کابل کرکټ لوبغالی د شپږیزې لوبلړۍ کوربه وي. ورځپاڼو ته د کرکټ بورډ مسئولینو ویلي چې میدان او ویشتنځایونه پوره اماده دي او اوسمهال د لوبغاړو پر ټرانسپورټي او د پاتې کېدو پر ځای کار روان دی. دغه اداره وايي چې دې پړاو شپږیزه کې نسبت پخوا ته د لوبغاړو اقتصادي برخه زیاته په نظر کې نیول شوې ده او هر ملي لوبغاړي ته به په یوه لوبه ۳۵ زره او پاتې نورو ته ۲۱ زره افغانۍ ورکول کېږي ... ۳مخ